سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۲۳

# د تاو تریخوالی د کمښت لومړۍ ورځ
# د سولې د راتلو لومړۍ ورځ ده

تلس کاله د امریکا او د ناتو د هیوادونو د نظامي شتون، په افغانستان کی د وینو د توئیدلو اود زرونو زرونو ملکی او نظامی انسانانو د وژني او د عامه شتمنیو د تباهی او بربادئ سره یوځای تیر شول.

که په ټوله کی وشمیرو نو نژدی یوځلوېښت کاله د افغانستان خاوره ښیک ښیک د اور په لمبو کی وریته او پخه شوه. دوه نسله مو په جنګونو کی پیدا او رالوی شول. لنده داچی که د دنیا نقشه مخی ته واچوو بله داسی جغرافیه به پکی و نه مومو چی په مسلسله توګه د افغانستان په څیردلویو نظامی قدرتونو د دومره اوږدو بی رحمانه حملو او د همسایه هیوادونو د سختو ناځوانمردانه ګواښونو او تهدیدونو لاندی د ی پاتی شوی وی. خو که دا ټولی د ظلم او استبداد بیلی بیلی مرحلی دقیقی را وسپړو نو زما له نظره په یوه جمله ممکن داسی خلاصه شی چی:

(د دی ټولو بربادیو له اتیا سلمی برخی نه لوړه برخه ملامته، خپله په مونږ او زمونږ د هیواد دناااهلو،بیکاره او د نورو له خوا د غولیدلیو، تیر وتلیو او یاهم ممکن د استخدام شویو زعامتونو او په ناحقه سره د قدرت د اشغالونکو مشرانو، پوری اړه پیدا کوی.) په دی معنی چی په دی ټوله دوره کی چی کوم زعامتونه او رهبریتونه را منځ ته شویدی، یو هم نه یواځی داچی د خپلو ولسونو، خپلو خلکو او خپل لوی ملت په غوښتنه او ارادی سره منځ ته نه دی راغلی، بلکی یوه زعامت هم په سلو کی لسمه برخه په خپلو خلکو او خپل ملت تکیه او حساب هم نه دی کړی. هر زعامت یواځی همدا کار کړیدی چی خپل خلک او د خپل وطن بچیان یی د خپلو شخصی او ګروپي ګټو او د خپل قدرت د ساتنی د پاره قربانی کړی او د اور په لمبو کی یی سیزلی دی.

که د دی اوږدی تراژیدی په ټولو اړخونو خبری وشی نوهراړخ د کتابونو لیکلو ته ضرورت لری. دلته یواځی په همدی بسنه کوو چی د نورو پردیو نه د خپل وطن په ورانی کی زمونږه برخه زیاته او درنه ده او دا ملامتیا باید ومنو او قبوله یی کړو.

مونږ په دی ټولو تیرو وختونو کی د سولی او د معضلی د حل د پاره د خپلی ساده ګی او یا هم د بیځایه غرور په اساس ډیر طلائي چانسونه د لاسه ورکړی او د یوه ناتوانه استبداد ځای مو ترپخوانی څو چنده قوی او زور ور استبداد

ته ور سپارلی دی. نن بیا زمونږ د ملت د موجودو اړخونو د زعامتونو په مخ کی د سوله ایز ژوند د تامین د پاره یوه بله آزموینه پرته ده او هغه د طالبانو د وسله وال ځواک سره د امریکا د دولت د پلان له مخی د موجود افغان دولت د سولی د راتلو او ملی پخلاینی ازموینه ده.

نن د دی ازموینی لومړی ورځ د ( تاوتریخوالی د کمښت) تر نامه لاندی د جګړی د دواړو اړخونو د پاره پیل کیدونکی ده. وایی چی که د دی یوی اونۍ په موده کی دولتی او امریکای ځواکونو د ناتو په شمول د طالبانو په مواضعو یاښکاره او یا غلچی بریدونه او د شپی عملیات تر سره نه کړل او همدارنګه وسله والو طالبانو په دولتی پوستو، لویو لارو عام المنفعه تاسیساتو او نورو باندی د انتحاری حملو پوری، د عمل کولو نه ډه ډه وکړه، نو دابه د باور او اعتماد یوه نوی ډاډمنه فضا را منځ ته کړی. دسولی ترتیب شوی موافقت نامه به دطالبانو او امریکا تر منځ د روانی فبروری د میاشتی په ۲۹ نیټه په اغلب ګومان د ناروی په هیواد کی لاس لیک شی.

د دی دپاره چی دا اعتماد و کولای شی د افغانانو تر منځ خبرو ته لاره پرانزی، دتاوتریخوالی دا امتحانی دوره په دایمی اوربند بدله شی او بلاخره دا دسولی خبری په تل پاتی حقیقی سولی باندی ختمی شی، دی څو ټکو ته باید کلکه پاملرنه وشی.

۱- په جنګ کی ټولی ښکیلی خواوی باید په کلکه توګه د شوی پریکړی ټول جزئیات په جدی توګه مراعات کاندی.

۲- که چیری کوم بل ځانګړی وسله وال ګروپ، د تخریب او د فضا د خړپړ تیا د پاره یا د طالب تر نامه او یا د دولتی ځواک تر نامه لاندی کوم تخریبی عمل تر سره کوی دواړه خواوی د هغوی د پیژندلو مکلفیت لری باید په سرعت سره هره دسیسه شنډه کړی.

۳- افغان غیر وسله وال ولسونه، مدنی فعالان، د رسنیو کار کونکی او نړیوال مشاهداتی او څارونکی ډلی باید په پوره بی طرفی او جرئت سره متخلف اړخ وپیژنی او معرفی کاندی.

۴- تر ټولو مهمه خبره داده چی د جمهوری ریاست د څوکی د نیولو د پاره د ټاکنو نتایج اعلان شول او ډاکتر محمد اشرف غنی ګټونکی و ښول شو. په هیواد کی د راتلونکی سولی د لاس ته راوړلو د پاره دی ټولی هغه ډلی او په سر کی د ډاکتر عبدالله عبدالله ډله چی د انتخاباتو نتیجه د ټګیو او درغلیو له کبله نه منی، باید لږ د حوصلی نه کار واخلی ترڅو د هغو کسانو د غوښتنو ښکار نشی چی د سولی د پروسی د سبوتاژ او ناکامی د پاره لاس و پښې وهې. که دوی ټول د تشنج د جوړیدو به ځای په دی فکر وکړی چی د یوه قوی اپوزیشن په توګه د غنی د دولت په مقابل کی ځان را څرګندی کاندی دا به ګټور کار وی. که دوی دا کار وکړی په دی کی هیڅ شک نشته چی د غنی د ارګ ډله که چیری د دوی په وینا د سولی په لارکی خنډ جوړوی، دی ته به یی حتمی مجبوروی چی د یوی حقیقی سولی د راتلو د پاره د دوی د غوښتنو سره موافقه وکاندی. په دی صورت کی به د یوه واحد قوت په توګه د طالبانو په وړاندی د ملی ګټو د ساتلو د پاره یو قوی موقف ولری او د یوه داسی نظام د جوړیدو د پاره به ګډی هلی ځلی وکړی چی افغان ولس ته د منلو وړ وی.

۵- وروستی خبره د طالبانو په مشرتابه پوری اړه لری. که دوی رېښتیا خپلواک وی نو د امریکا سره د توافقاتو تر لاس لیک نه وروسته باید داسی فکر وکړی چی نور په ټول افغانستان کی نه د دوی دښمن شتون لری او نه یی هسی مخالیفین چی دوی ته په افغانستان کی د ګټور عمل د تر سره کولو سره موافقه نه لری. دوی باید زیار و باسی چی د

اسلام د مقدس دین د اساساتو سره سم د نبی کریم ص په څیر د خپل ملک او خپلو خلکو سره مینه ولری او داسی د خیر او فلاح لاره غوره کاندی چی په ټول هیواد کی یو بدخواه هم ونه لری.

اوس دی ټولو ته دا ستره ازموینه په مخکی پرته ده. دوی ټول باید و پوهیږی چی د دوی خاموش ملت او د دوی ملت پوهان او عالمان د دوی هر قدم او عمل څاری او دوی به دا توان و نه لری چی د تاریخ د ښه او بد قضاوت نه ځانونه، خپله ډله اود خپلی لاری ملګری وژغوری. ټولو ته دی د نیک عمل کولو توان ور په برخه شی. پای

****  ****  ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د تاو تریخوالی د کمښت لومړی ورځ
د سولی د راتلو لومړی ورځ ده